اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

## د کتاب لوستلو دعا

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښې دا لاندې دُعا لولئ
اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ څه چې لولئ هغه به مو ياد پاتې کيږي:

اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام

**ترجمه**: اے الله پاک په مونږه د عِلم او د حِکمت دروازے برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګۍ والا!

(مستطرف ج 1 ص 40 دار الفکر بيروت)

(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

طالب غم
مدينه بقيع
ومغفرت

د رسالے نوم: **د طعام پينځه سُنّتونه**

اول ځل: ..........................................

تعداد: ......................

## مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالے چاپ کولو اجازت نشته

### کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ

که د کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پاڼرې کمې وي يا په بائنډِنګ کښې مخکښې وروسته لګيدلي وي نو مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه ته رجوع اوکړئ.

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ عَزَّوَجَلَّ! د **عاشقانِ** رسول يوه مَدَني قافِله د **چکوال** (پنجاب، پاکستان) نه مُظَفَّر آباد او د هغې خوا و شا کلو ته د سُنّتو د سپرلو خوررولو د پاره راغلي وه او د سفر په دوران کښې يو مُقام "انوار شريف" ته اورسيدله، د هغه ځائے نه خلور اسلامي ورونړه **سمدستي** د درې ورځو **مَدَني قافِلے** د پاره عاشقانِ رسول سره شريك شول، په هغه ځلورو کښې يو د "انوار شريف"د **صاحِب مزار** [يعني د زيارت د] بُزُرگ رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د اولاد نه يو کس هم وو. **مَدَني قافِله** د نيکۍ دعوت عام کولو کولو کښې "کړهي دوپټّه" ته اورسيده. چې کله د "انوار شريف" والؤ درې ورځې پوره شوې نو د هغه **صاحِب مزار** [يعني د زيارت د] بزرگ رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د اولادے هغه کس اووئيل چې زه خو بيرته نه ځم، ځکه چې نن شپه ما په خوب کښې خپل "حضرت" رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه اوليدلو او ما ته ئې اُووئيل چې بيرته کور ته مه ځه، مَدَني قافلے والؤ سره نور **مخکښې** هم سفر جاري ساته." د زيارت د هغه بزرگ رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د **اِنفِرادي کوشش** دا واقعه ئې چې واوريدله نو مَدَني قافِلے والا ډير خوشحاله شو، د ټولو حوصلے نورې هم اوچتې شوې او د انوار شريف هغه څلور واړه اسلامي ورونړه سمدستي مَدَني قافلے سره نور **مخکښې** په سفر روان شو.

دیتے ہیں فیض عام اَولیاۓ کرام لوٹنے سب چلیں قافلے میں چلو
اولیا کا کرم تم پہ ہو لاجرم مل کے سب چل پڑیں قافلے میں چلو

ورکوي فيضِ عام، اولياءِ کِرام ځئ چې حاصِل ئې کړو، قافِلو کښې لاړ شئ
د اولياؤ بَرَکتونه، هم به کيږي رحمتونه ځئ چې ټول لاړ شو، قافِلو کښې لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د خوب په ذريعه د اَسپې تُحفه

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د کوم يو ولِيُّ اللّٰه له طرفه د وفات نه پس په خوب کښې اِمداد کول څه د **حيرانتيا** خبره نه دہ،د **اللّٰه** پاک نيك بندګان د ربّ عَزَّوَجَلَّ په ورکړه ډير څه کولے شي چنانچه خواجه اِمير خرد کِرماني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ليکي چې سلطانُ ا

لَمَشائِخ **حضرتِ** سیِّدُنا محبوب اِلٰهی نِظامُ الدِّین اولیاء رحمۃُ اللہِ علیہ فرمائي: په غِیاث پور کښې اوسیدو نه **مخکښې** به زه تقریباً درې کِلومیټره لرې د **کیلوکهري** [علاقې] جُمات ته د جُمُعې د لـمانځه د پاره تللم. یو ځل هم دغسې پیاده د جُمعې د لـمانځه د پاره روان ووم، توده هوا لګیدله او زما روژه وه، په ما سر اوګرځیدو او د یو دُکان خوا ته کښیناستم. زما په زړه کښې خیال راغې چې که زما سره څه سورلۍ وې نو سهولت به راته وو. بیا د شیخ سعدي دا شعر زما په ژبه راغې.

تا قَدَم اَز سَر کُنیم دَر طَلَبِ دوستاں
رَاه بَجائے نَبُرد هَر که باقدام رَفت

(مونږه د دوستانو [د رضا] حاصلولو د پاره د ښپو په ځائې په سر ځُو، ځکه چې څوك په دې لاره په ښپو ځي، هغه منزِل ته نه شي رسیدلې)

زما په زړه کښې چې د سورلۍ کوم خیال راغلې وو ما د هغې نه توبه اوکړه. د دې واقعې درې ورځې پس "خلیفه مَلِك یار پران" زما د پاره یوه **آسپه** راوستله او وئیل ئې چې د درې شپو نه مسلسل په خوب کښې وِینم چې زما شیخ [یعني پیر صاحِب] ما ته فرمائي چې "فلانکي صاحِب ته **آسپه** ورکړه." لِهٰذا! **آسپه** حاضِره ده، قبوله ئې کړئ. ما ورته اووئیل چې بې شکه ستاسو شیخ به تاسو ته فرمائیلي وي خو چې تر څو پورې زما شیخ ما ته نه وي فرمائیلي تر هغې زه دا اسپه نه اخلم، هم هغه شپه ما خوب اولیدو چې زما پیر و مُرشِد **حضرتِ** سیِّدُنا شیخ فریدُ الدِّین ګنجِ شکَر رحمۃُ اللہِ علیہ ما ته فرمائي چې د خلیفه مَلِك یار پران د زړه خوشحالولو د پاره هغه **آسپه** قبوله کړه. په دویمه ورځ بیا هغه **آسپه** راوسته نو ما د **اللہ** پاک عطا اوګنړله او قبوله مې کړه. (سِیَرُ الْاَوْلِیاء ص۲۴٦)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## صرف خپلې مخې نه خوړئ

چې په **یو لوښي** کښې صرف د یو قِسم طعام وي نو خپلې **مخې** نه طعام خوړل سُنَّت دي. چنانچه **حضرتِ** سیِّدُنا عُمَر بن اَبِي سَلَمه رضی اللہُ عنہ فرمائي چې زه لا ماشوم ووم او

تاجدارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به مې پالنه کوله. (دا د اُمُّ الْمُؤمِنِين سیّدَتُنا اُمِّ سَلَمه رَضِىَ اللهُ عَنْهَا د سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نِکاح کښې راتلو نه مخکښې د پخواني خاوند نه شوے ځوئي وو) د طعام خوړلو په وخت کښې به مې په لوښي کښې هر طرف ته لاس وهلو. تاجدارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: بِسۡمِ الله اولوله او په ښي لاس خوره او د لوښي هغه طرف نه خوره کوم چې تا ته نِزدے دے. (صحیح بُخاری ج۳، ص۵۲۱، حدیث۵۳۷۶)

## د مینځ نه مه خورئ

د حضرتِ سَیِّدُنا عبدُالله اِبنِ عبَّاس رَضِىَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوایت دے، نبئ کریم، رَءُوْفٌ رَّحِیم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: بے شکه بَرَکت د طعام په مینځنئ حِصّه کښې راکوزیږي پس تاسو د غاړو نه طعام خورئ او د مینځ نه مه خورئ." (تِرمِذی ج۳ ص۳۱٦، حدیث ۱۸۱۲)

## تاسو چرې د مینځ نه خو طعام نه خورئ

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼرو! غور اوکړئ چې په دې سُنَّت تاسو عمل کوئ او که نه؟ ما ډیر ځل لیدلي دي چې اکثر باعمله ښکاریدو والا هم په دې سُنَّت باندې د عمل کولو نه محرومه دي! چا ته چې ګورې د طعام د رکیبئ یا لوښي د مینځ نه شروع کوي. معلومه نه ده چې دا ولے؟ چرې داسې خو نه ده چې د بَرَکت نه محرومه کولو د پاره ئې شیطان لاس نیسي او مینځ له ئې وروړي! حقیقت دا دے چې شیطان د دې خبرې په کوشش کښې وي چې مسلمان د نیکئ نه محرومه شي. **مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد یار خان نعیمي** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي:"د طعام د لوښي په مینځ کښې د **الله** پاک رحمت نازلیږي، د مینځ نه خوراك کول د حِرص نښه ده،حَرِیص[یعني حِرص کوونکے]د **الله** پاک د رَحمت نه محرومه دے." د دې حدیثِ مبارکه نه معلومیږي چې د مسلمانانو د طعام خوړلو په وخت کښې هم رَحمتِ اِلٰهی نازلیږي خاص طور چې کله د سُنَّت په نِیَّت خوراك اوکړے شي. (مِراٰۃ شرحِ مِشکوٰۃ ج٦ ص۳۳،۳٤)

## نور خلق د شرمِنده کيدو نه بچ کړئ

**حضرتِ** سيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عُمَر رضی اللہ عنہما نه رِوايت دے چې د نبيانو سلطان صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم فرمائي: چې کله دسترخوان خور کړے شي نو هر کس دِ د خپلې خوا [يعني مخې] نه خوري او د ځان سره خوړلو والؤ د مخې نه دِ نه خوري او د رکيبئ [يعني لوښي] د مينځ نه دِ نه خوري (ځکه چې بَرَکت هم د هغه طرف نه راځي) او هيڅ څوك دِ هم د دسترخوان اوچتولو نه مخکښې نه پاڅي او نه دِ خپل لاس اودروي تر څو چې ټولو خلقو لاس نه وي اودرولے اګر که موړ شوے وي د نورو خلقو سره دِ لګيا اوسي ځکه چې د دې بس کول به د نورو خلقو د شرمِندګئ باعِث وي او هغوئي به خپل لاسونه اودروي حالانکه کيدے شي چې هغوئي ته لا اوس د نور خوراك کولو حاجت وي. (شُعَبُ الْاِيمان ج٥ ص٨٣ حديث٥٨٦٤)

## په مينځ کښې د بَرَکت وَضاحت

**مشهور مُفَسِّر حَکِيمُ الْاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان نعيمي** رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: د لوښي د غاړې او خپلې مخې نه خوراك کوئ، د مينځ نه مه خورئ ځکه چې په مينځ کښې **بَرَکت** راکوزيږي او د هُغه ځائے نه غاړو ته رَسي، که تاسو د مينځ نه خوراك کول شروع کړل نو هسې نه چې هلته **بَرَکت** نازِليدل بند شي. غرض دا چې د **بَرَکت** د راکوزيدو ځائے بل دے او د **بَرَکت** اخستو ځائے بل دے. (مِراۃ ج٦ ص٦٣)

## د طعام پېنځه سُنَّتونه

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! په بيان شوي حديث مُبارك کښې د طعام خوړلو پېنځه سُنَّتونه بيان کړے شوي دي. ﴿۱﴾ د خپلې مخې نه خورئ ﴿۲﴾ چې څوك درسره يو ځائے خوري د هغه د مخې نه مه خورئ ﴿۳﴾ د رکيبئ [يعني لوښي] د مينځ نه مه خورئ ﴿٤﴾ مخکښې دِ دسترخوان اوچت کړے شي د هغې نه پس دِ طعام خوړلو والا پاڅي. (افسوس نن صبا مُخالِف انداز دے يعني مخکښې خلق پاڅي د هغې نه پس دسترخوان

اوچتوي) ﴿٥﴾ كه نور خلق هم ورسره په [په يو دسترخوان] خوراك كښې شامِل وي نو د هغې پورې دِ لاس نه اودروي تر څو چې ټول د خوراك نه بس نه كړي. افسوس! چې د طعام په بيان شوو سُنَّتو باندې عمل كوونكي اوس د سره نشكاري نه. د سُنَّتو زده كولو او د خلقو په مخكښې په سُنّتو باندې عمل كولو كښې د شرم محسوسولو عادت ختمولو د پاره د دعوتِ اسلامي د سُنَّتو د تربِيَّت مَدَني قافلو كښې سفر اوكړئ او هلته د دې سُنّتونو باقاعده تربِيَّت واخلئ. اِنْ شَآءَاللهتعالٰى مَدَني قافلو كښې د سفر په بَرَكت به په سُنَّتو باندې عمل كول ډير آسان شي.

## د ويرې د خوبونو نه خلاصے

د مَدَني قافِلو د بَرَكتونو به څه وائې! د يو اسلامي ورور د بيان خُلاصه ده چې ما به ډير سخت ويروونكي خوبونه ليدل. ما د عاشقانِ رسول سره د دعوتِ اسلامي د سُنَّتو د تربِيَّت د يوے مياشتې مَدَني قافِله كښې د سفر كولو سعادت حاصِل كړو. اَلْحَمْدُلِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! د مَدَني قافلے په بَرَكت مې وېرَوونكي خوبونه ليدل بند شو، ما په خوب كښې خوږه مدينه اوليدله او وس په خوبونو كښې كله ځان په لـمانځه كولو وينم او كله په تِلاوت كولو.

خواب میں ڈر لگے بوجھ دل پر لگے | خوب جلوے ملیں قافلے میں چلو
ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو | پاؤگے راحتیں قافلے میں چلو

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب | صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د شپے اوده كيدو وخت كښې كه يَامُتَكَبِّرُ يو ويشت ځله د اوَّل او آخِر يو يو ځل درود شريف سره لولئ نو اِنْ شَآءَاللهتعالٰى د ويرې خوبونه به نه وينئ.